PS



# د ګوتو چاپونه او یوروډاک

د دریم هیواد د اتباعو یا بې وطنه اشخاصو لپاره معلومات چې له یو بهرني سرحد څخه په غیرمنظمه توګه تیر شویدي او په دې ارتباط نیول شویدي چې د (EU) د 2013/603 مقررې د (3)29 مادې سره سمون خوري

©iStockphoto / janp013

که چیرته تاسو ۱٤ کاله او یا تر هغې ډېر عمر لرئ او په دې تور نیول شوي یاست چې له یو بهرني سرحد څخه په ناقانونه توګه تیر شوي یاست، نو ستاسو د ګوتې نښه به واخیستل شي او د «یوروډاک» په نامه د ګوتې د نښو یوه ډیټابیس ته به ولیږدول شي. په دې پروسیژر کې باید تاسو همکاري وکړئ - د قانون له مخې تاسو مکلف یاست چې خپله د ګوتې نښه ورکړئ.

که چیرته ستاسو د ګوتې نښه روښانه کیفیت نلري، یا مو په قصدي توګه خپلو ګوتو ته زیان رسولای وي نو ستاسو د ګوتې نښې به په راتلونکې کې واخیستلای شي.

که چیرته په راتلونکې کې تاسو بیا کوم بل ځای د پناه اخیستو غوښتنه کوئ نو ستاسو د ګوتې نښه به بیا هم واخیستل شي. که چیرته تاسو په یوه داسې هیواد کې د پناه اخیستو غوښتنه وکړئ چې هغه هیواد نه وي چې ستاسو د ګوتې نښه پکې ثبت شویده، نو تاسو به بیرته هغه هیواد ته ولیږل شئ چې ستاسو د ګوتې نښه پکې ثبت شویده.

ستاسو د ګوتې د نښې اسناد به تر ۱۸میاشتو پورې وساتلای شي- له ۱۸ میاشتو وروسته به په اوتومات توګه ستاسو د ګوتې نښه له ډیټابیس څخه لرې شي. په یوروډاک کې به یواځې ستاسو د ګوتې نښه او جنسیت ثبت شي- ستاسو نوم، عکس، د زیږیدو نیټه او ملیت به په دې ډیټابیس کې نه ذخیره کیږي.

په راتلونکې کې کیدای شي تاسو هر وخت غوښتنه وکړئ چې په تاسې پورې اړوندو اسنادو ته په یوروډاک کې لاسرسی پیدا کړئ او په دې برخې کې مفاهمې ته ورسیږئ، او دا له هغه هیواد څخه چې ستاسو د ګوتې نښه پکې ثبت شویده تر لاسه کړئ. تاسو همداشان د اسنادو د تصحیح او یا لرې کولو لپاره هم غوښتنه کولای شئ، هغوی باید لرې کړای شي، د بیلګې په توګه که چیرته تاسو د EU یا ورسره ګډو هیوادونو تابعیت تر لاسه کړئ او یا له یادو هیوادونو په یوه کې د اوسیدلو اجازه درکړل شي چې تاسو ورته د پناه اخیستلو لپاره غوښتنه نده وړاندې کړې.

یوروډاک د اروپایي اتحادیې د یوې ادارې له خوا چې LISA-ue نومیږي، په مخ بیول کیږي. ستاسو اسناد به یواځې په هغه مواردو کې کارول کیږي چې د قانون په واسطه ځانګړې شویدي. ستاسو اسناد به یواځې د یوروډاک مرکزي سیستم ته داخلیږي. که چیرته تاسو په راتلونکې کې د EU یا کوم بل ګډ هیواد کې د پناه اخیستلو غوښتنه کوئ [1]، ستاسو د ګوتو نښې هغې

**1) ستاسو د ګوتې د نښې اسناد به د قانون له مخې د اروپایي ټولنې د28 غړو هیوادونو او ورسره ګډو 4 هیوادونو تر منځ شریک شي چې عبارت دي له ناروې، آیسلیند، سویټزرلند او لیختن شتاین.**

هیـواد تـه د تصدیـق لپـاره ولیـږل شي. پـه یـوروډاک کـې ذخیـره شـوي ډیټـا بـه د بـل کـوم هیـواد یـا د EU او د اتحـادي هیوادونـو نـه د بانـدې ادارو سره نـه شریکیـږي.

د ۲۰۱۵ کال د جـولای تـر۲۰ پـورې بـه ستاسـو د ګوتـې نښـې د ځینـو مسـولینو له خوا پلټـل کیـږي لکـه د پولیسـو لـه خـوا او یـا د اروپایـي پولیسـو د اداري یـا (یوروپـول) لـه خـوا، دوی د یـوروډاک لـه ډیټابیـس څخـه د معلوماتـو تـر لاسـه کولـو حـق لـري تـر څـو د سـختو جرمونـو او تروریـزم د څیړنـې، تحقیـق او مخنیـوي پـه برخـه کـې ورڅخـه کار واخلـي.

## د اړیکو معلومات

د یوروداک (Eurodac) معلوماتی سیستم

مشرتوب پته اوارتباطی نښی:

**د پناهنده ګی تو مهاجرت دفتر د کورنیو چارو وزارت تر لاندی**

پته: L. Sapiegos g. 1, 10312 ویلنیوس

تیلیفون: +370 5 271 7112

برښنالیک: md.rastine@vrm.lt

ویب پاڼه: http://www.migracija.lt

د معلوماتو څارونو ( محافظت او کنټرول

ملی ارګان پته او نښی:

**د معلوماتو دولتی څاورنکی اداره:**

پته: Juozapavičiaus g. 6, 09310 ویلنیوس

تیلیفون: ,+370 5 271 2804

+370 5 279 1445

برښنالیک: ada@ada.lt

ویب پاڼه: /https://www.ada.lt

**© د اروپا اتحادیه 2014**
**بیاتولیـد یـې مجـوز دی. د هـرډول کاروونـې یـا انفـرادي عکـس (کاپـي) تولیـد لپـاره اجـازه بایـد د کاپـي حـق لرونکـو لخـوا پـه مسـتقیم لیکلـې بڼـه واخیسـتل شي.**

BZ-01-14-067-PS-C

doi:10.2847/19719
ISBN 978-92-9243-154-9

European Commission

EASO

MIGRACIJOS DEPARTAMENTAS

Publications Office